NHS
Greater Glasgow and Clyde

PASHTO

د پټ توبرکلوز

په اړه معلومات

(پشتو)

د توبرکلوز ناروغي

- د توبرکلوز میکروب فعال وي او په بدن کې وده کوي
- د دې لامل کیږي چې شخص ځان ناروغ احساس کړي یا د ناروغۍ نښې ولري
- له یوه شخص څخه بل شخص ته خپریدای شي
- که درملنه یې ونه شي د مړینې لامل کیدای شي

پټ توبرکلوز

- د توبرکلوز میکروب په بدن کې وي، خو په بدن کې وده نه کوي
- د دې لامل نه کیږي چې شخص ځان ناروغ احساس کړي یا د ناروغۍ نښې ولري
- له یوه شخص څخه بل شخص ته نه خپریږي
- کېدای شي په فعاله توبرکلوز بدل شي

پټ توبرکلوز (TB) څه شی دی؟

پټ توبرکلوزهغه وخت وي چې د توبرکلوزمیکروبونه ستاسو په بدن کې موجود وي، خو تاسو په فعال توبرکلوزاخته نه یاست.

- که څه هم د توبرکلوزمیکروبونه ستاسو په بدن کې دننه موجود وي، خو ستاسو دفاعي سیستم یې تر کنټرول لاندې ساتي.
- تاسو به هېڅ ډول نبني ونه لرئ او د ناروغۍ احساس به هم نه کوئ.
- تاسو نشئ کولی د توبرکلوزمیکروبونه بل چا ته انتقال کړئ.

پټ توبرکلوزته د توبرکلوزانتان، پټ توبرکلوزیا غیرفعال نری رنځ هم ویل کېږي.

پټ توبرکلوزڅنګه تشخیصېږي؟

د پټ توبرکلوزد تایید لپاره بېلابېل معاینات شته چې کېدای شي د توبرکولین د پوستکي معاینه او/یا د وینې معاینه پکې شامله وي.

ولې پټ توبرکلوز باید درملنه شي؟

- پټ توبرکلوزباید درملنه شي، ځو په راتلونکي کې د فعال توبرکلوزد رامنځته کېدو مخه ونیول شي.
- معمولاً د بدن دفاعي سیستم هغه میکروبونه له منځه وړي چې بدن ته د تنفس له لارې داخل شوي وي. خو که د بدن دفاعي سیستم کمزوری شي، کېدای شي ونه شي کولی چې د توبرکلوزمیکروبونه تر کنټرول لاندې وساتي. په دې صورت کې د توبرکلوزمیکروبونه فعالېدای شي.

درملنه څه ډول ده؟

د پټ توبرکلوزدرملنه معمولاً دوه انټيبيوټيکونه دي چې په یوه ګولۍ کې یوځای وي او هره ورځ د 3 میاشتو لپاره اخیستل کېږي.

د توبرکلوزمیکروبونه ډېر ورو له منځه ځي، نو ځکه د انټيبيوټيکونو د درملنې د بشپړې دورې پای ته رسول ډېر مهم دي. که د درملنې دوره بشپړه نه کړئ، په راتلونکي کې د فعال توبرکلوزد رامنځته کېدو له خطر سره مخ کېدای شئ.

تاسو به د درملنې له پیل څخه مخکې او د درملنې په جریان کې د وینې معاینې ته اړتیا ولرئ، ځو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو ځیګر په عادي ډول فعالیت کوي.



Rifinah (ریفیناه)
150/100 میلی ګرامه



Rifinah (ریفیناه)
300/150 میلی ګرامه



Pyridoxine Vitamin
B6 پریدوکسین، ویتامین B6

آیا جانبي عوارض لري؟

کله چې تاسو انټي‌بیوټیکونه اخلئ، کېدای شي تاسو پام وکړئ چې ستاسو ادرار، غایطه مواد، اوښکې یا خوله سور یا نارنجي رنګ غوره کوي. دا یو بې‌ضرره جانبي عارضه ده. نرمې کانټکټ لینزونه کېدای شي خپل رنګ بدل کړي.

انټي‌بیوټیکونه کېدای شي د امیندوارۍ د مخنیوي "ګولۍ" او د امیندوارۍ د مخنیوي نورې لارې کمې اغېزمنې کړي. دا په دې معنا ده چې تاسو به د امیندوارۍ د مخنیوي یوه باوري خندې طریقه، لکه کاندوم، هم کارولو ته اړتیا ولرئ.
مهرباني وکړئ په دې اړه د کورنۍ د تنظیم له کلینیک، ډاکټر یا درمل جوړونکي (فارمسست) سره مشوره وکړئ.

که تاسو لاندې نښې تجربه کړئ، مهرباني وکړئ خپل عمومي ډاکټر (GP) خبر کړئ:

- زړه بدوالی یا کانګې
- ژړوالی (د سترګې د سپینې برخې یا پوستکي ژېړېدل)
- دوامداره د پوستکي دانې یا خارښت
- تبه
- د لاسونو او پښو په ګوتو کې د مېړیانو د ګرځېدو یا سوزش احساس

په یاد ولرئ:

- تاسو باید انټي‌بیوټیکونه هره ورځ، د سهار له ناشتې څخه 30 دقیقې مخکې، واخلئ
- د درملو هېڅ دوزه مه هېروئ
- له الکولو څخه ډډه وکړئ
- هڅه وکړئ چې د کلینیک ټولو ټاکل شوو ملاقاتونو ته حاضر شئ

له دې کارونو څخه ډډه وکړئ:

د درملنې په جریان کې باید د لمر له مصنوعي تختو (Sun beds) څخه استفاده ونه کړئ. کله چې ستاسو پوستکی د لمر له قوي وړانګو سره مخ کیږي، مهرباني وکړئ د لوړ حفاظتي فکتور لرونکی د لمر ضد کریم (Sun cream) وکاروئ. (د توبرکلوزضد ځینې ګولۍ کولی شي ستاسو پوستکی د لمر وړانګو ته لا ډېر حساس کړي.)

نور معلومات:

که تاسو نورو معلوماتو یا مشورې ته اړتیا لرئ، له خپل سیمه ییز د توبرکلوزنرس (TB Nurse) سره اړیکه ونیسئ:

Glasgow Royal Infirmary

Glasgow and Clyde East and North

0141 201 3900 ☎

د دوشنبه څخه تر پنجشنبه پورې، د سهار له 9 بجو څخه د ماښام تر 6 بجو پورې

(جمعه د مازدیګر تر4:30 بجو پورې)

Gartnavel General Hospital

Glasgow and Clyde West

0141 232 2161 ☎

د دوشنبه څخه تر چهارشنبه پورې، د سهار له 8 بجو څخه د مازدیګر تر 4 بجو پورې.

Queen Elizabeth University Hospital

Glasgow and Clyde South

0141 451 5862 ☎

د دوشنبه څخه تر پنجشنبه پورې، د سهار له 8 بجو څخه د مازدیګر تر 4 بجو پورې.

New Victoria Hospital

Glasgow and Clyde South West

0141 345 8846 ☎

د سه شنبه څخه تر جمعه پورې، د سهار له 9 بجو څخه د مازدیګر تر 4 بجو پورې.